۱۶ فبروري ۲۰۲۴

جلالتمآب انتونیو ګوتریش
د ملګرو ملتونو عمومي منشي،
نیویارک،

**جلالتمآب،**

مونږ، د افغانستان د سیاسي او مدني ټولنو ایتلاف، غواړو چې د ملګرو ملتونو نه ستړي کیدونکو هلو ځلو او د افغانستان مصیبت ځپلي ولس بیا د ښځو او نجونو بد وضعیت ته ستاسو له شخصي پاملرنې له څخه، د زړه له کومې مننه وکړو.

زمونږ ایتلاف، دننه او له هیواد څخه دباندې، له پخوانیو دولتي چارواکو، دیپلوماتانو، اکاډمیکو شخصیتونو، علماوو، په مختلفو عرصو کې متخصصینو، د بشري حقونو او د ښځو د حقونو مدافعانو او همداراز د ځوانانو له استازو څخه جوړ دی.

مونږ ستاسو په مشرۍ په دوحه کې د افغانستان په اړه د ځانګړو نمایندګانو او استازو له راتلونکې جوړیدونکې غونډې څخه کلک هرکلی کوو. دا غونډه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۷۲۱ (۲۰۲۳) پریکړه‌لیک پلي کولو او د سفیر فریدون سینیرلي اوغلو د خپلواکې ارزونې وړاندیزونو په اړه د بحث لپاره یو ښه فرصت دی.

مونږ باور لرو چې دا غونډه په افغانستان کې د سولې، امنیت، بشري حقونو او مشروع حکومتدارۍ په برخه کې د سیمییزې او نړیوالې اجماع په رامنځته کیدو او ټینګښت کې مهم رول لوبوي.

دا مسایل بیا په ځانګړې د تروریزم او مخدره موادو سره مبارزه، د بشري بحرانونو، د خلکو د بې ځایه کیدو او د کډوالۍ د مخنیوي په برخه کې هڅې د افغانستان او نړیوالې ټولنې د ګډو ګټو لپاره خورا مهم دي.

په دغو مسایلو کې پرمختګ فوق العاده په دې پورې اړه لري چې نړیواله ټولنه د افغانستان د حکومت مشروعیت، رسمیت پیژندنې او له نړیوالې ټولنې سره بې بیرته یوځای کیدو په برخه کې واحد دریځ خپل کړي.

د افغانستان دولت باید خپل مشروعیت د نارینه وو او ښځو له آزادې ارادې او رایو او همداراز د افغانستان نړیوالو مکلفیتونو د بشپړه رعایتولو له لارې ترلاسه کړي.

موږ له نړیوالې ټولنې څخه غواړو چې د افغانستان نړیوالو مکلفیتونو او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۷۲۱ (۲۰۲۳) پریکړه لیک کې ذکر شویو اصولو باندې د ټینګار پر اساس له طالبانو سره یو واحد چلند غوره کړي.

له دې کړنلارې څخه هر ډول انحراف، په ځانګړې توګه د رسمیت پیژندنې په برخه کې یو اړخیز اقدام، پرته له دې چې اساسي بشري حقونه او آزادۍ چې دولت ته مشروعیت ورکوي په پام کې ونیول شي او پرته له دې چې د تروریزم له بیلابیلو ډولونو سره مبارزه وشي، له افغانستان څخه هاخوا سولې او ثبات ته د پام وړ ګواښ متوجه کوي.

په دې برخه کې موږ د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړې استازې له ټاکلو څخه هرکلی کوو ترڅو د خپلواکې ارزونې د سپارښتونو، بیا په ځانګړې توګه د بین الافغاني مذاکراتو د تطبیق په برخه کې سیمییزه او نړیواله اجماع رامنځته کړي.

بین الافغاني مذاکرات، لکه څنګه چې د دوحې د سولې په موافقې ذکر شوي، داسې سیاسي حل لارې ته د رسیدو په برخه کې چې له مخې یې بشري حقونه خوندي او د حکومت مشروعیت تضمین شي، فوق العاده مهم دي.

موږ له ټولو ګډونوالو غواړو چې په ګډه له طالبانو څخه وغواړي چې د سولې په موافقې کې چې دوی لاسلیک کړې، بین الافغاني مذاکراتو په هکله خپلې کړې ژمنې چې یو دیني او سیاسي مکلفیت یې دی، عملي کړي.

د سیاسي بهیر له پرمختګونو سره جوخت، د ټولو افغانانو، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو د بشري حقونو تامین، خورا مهم دي.

په افغانستان کې د ښځو او ماشومانو سربیره میلیونونو خلکو ته چې د بیوزلۍ له لاسه کړیږي، د بشري مرستو چمتو کولو لپاره کافي مالي مرستو ته اړتیا شته.

موږ له ټولو ګډونوالو څخه غواړو چې د طالبانو د ظالمانه تګلارو د بدلون او د بشري حقونو په ځانګړي توګه د ښځو د وضعیت د ښه کولو په برخه له خپل نفوذ څخه کار واخلي.

موږ همداراز د روان بشري ناورین د حل لپاره د ګډونوالو د دوامداره او سخاوتمندانه مرستو غوښتونکي یو. موږ د مرستندویه هیوادونو له سخاوتمندانه مرستو چې همدا اوس یې ترسره کوي او د بشردوستانه سازمانونو د پام وړ هلوځلو څخه زیاته مننه کوو.

**جلالتمآب،**

موږ، د سیاسي او مدني ټولنې د فعالینو په توګه، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۷۲۱ (۲۰۲۳) پریکړه لیک او د خپلواکې ارزونې د سپارښتنو سره سم د ملي یووالي د ټینګښت خپل مسوولیت ګڼو. موږ ژمن یو چې په سیاسي بهیر او بین الافغاني مذاکراتو کې فعاله ونډه واخلو.

موږ د غونډې له برخه والو څخه غواړو چې د افغانانو غوښتنې لکه څنګه چې په دې لیک کې منعکس شوي په پام کې ونیسي او له افغان سیاسي او مدني شریکانو ملاتړ وکړي ترڅو په فعاله توګه ښکیل شي.

موږ ستاسو جلالتمآب یا ستاسو د استازو ځواب ته سترګې په لار یو. مهرباني وکړئ ، زموږ د لوړې پاملرنې ډاډ ومنئ.

په درنښت،

په الفبا سره

| | | |
|---|---|---|
| د افغانستان د خلکو د انسجام شورا | ښاغلی داکتر رشید محمود | |
| د افغانستان د خواخوږۍ بهیر | ښاغلی میا ګل وثیق | |
| د افغانستان د سولې او عدالت ملي غورځنګ | ښاغلی داکترمحمد جلیل شمس | |
| د افغانستان د ملي بحث غورځنګ | ښاغلی نبیل بارکزی | |
| د افغانستان د ملي پیوستون غورځنګ | ښاغلی شیرافضل اخګر | |

| | | |
|---|---|---|
| د افغانستان ملي متحد ګوند | ښاغلی نورالحق علومی |  |
| د افغانستان د سولې د فعالانو ملي ګوند | ښاغلی ډاکټر مرتضی کیوان<br>ښاغلی ډاکټر خدایداد بشرمل |  |
| د ملي محور ګوند | ښاغلی خوشحال روهی |  |
| د وطن کلتوري او خپرندویه ټولنه | ښاغلی جمشید پایمرد |  |